# راشئ...!!
# د نیکئ طرف ته

**27 February-2025**

هفته وراه د سنّتونکه اجتماع کښې کېدونکے
د سنّتونک بیان

(For Islamic Brothers)

پۀ 27 فروری، کال 2025ء (28شعبان، کال 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# راشئ---!! د نیکۍ طرف ته

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---پۀ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې د ګناه وَبَال
- ---خوښ عمل کوم یو دے---؟
- --- د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف 5 خصوصي عبادتونه
- ---پۀ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې پۀ کثرت سره تِلاوت کوونکي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

﴿تجاویز و شِکایات﴾

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د اربعين عطّار، قسط: 2، پهٔ صفحه: 31، **حديثِ پاک** نمبر: 31 دے:

**د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:**

مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ فِيْ كِتَابٍ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ عَلٰى مَرِّ الْاَيَّامِ فَضْلَ الصَّلَاةِ

ترجمه: چا چې پهٔ کتاب کښې پهٔ ما باندې درودِ پاک وليکلو، **اللّٰه** پاک به د هغهٔ د پاره د تيرو شوو ورځو پهٔ بدل د درودِ پاک ثواب وليکي- (1)

يانبی! تم پہ بار بار سلام | بے عدد اور بے شُمار سلام

روزِ اوّل سے لے کے تا بہ ابد | آپ پر روز سو ہزار سلام

یہ بھی تھوڑا ہے آپ کی خاطِر | بھیجئے گر کروڑ بار سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... المجالس الوعظية للسفيري، جلد: 1، صفحه: 79۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے-[(1)]
اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړئ: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پۀ اَدب به کښينم ❁ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مرحبا--!! رَمَضَانُ المُبَارَک شريف بيا تشريف راوړي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! رَمَضَانُ الْمُبَارَک شريف تشريف راوړي- سُبْحٰنَ الله! د رحمان مياشت راروانه ده، آؤ! آؤ! خوشحاله شئ! د غُفران مياشت تشريف راوړي--!!

| | |
|---|---|
| مرحبا! صَد مرحبا! پھر آمدِ رمضان ہے | کِھل اُٹھے مرجھائے دِل تازہ ہوا ایمان ہے |
| یاخُدا! ہم عاصیوں پر یہ بڑا احسان ہے | زندگی میں پھر عطا ہم کو کیا رمضان ہے (2) |

بس يو څو ورځې پس به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! ❁ شيطان قيد کړے شي ❁ د جنَّت دروازې به پرانستے شي ❁ د نيک اعمالو قدر او قيمت به زيات کړے شي، د نفلو ثواب به د فرضو برابر او د فرضو ثواب به 70 چنده زيات کړے شي ❁ د بخښنې چيټئ به تقسيمول شروع کړے شي ❁ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! روزانه به پۀ لکونو ګنهګاران بخښلے کيږي-

| | |
|---|---|
| ابرِ رحمت چھا گیا ہے اور سماں ہے نُور نُور | فضلِ رَبّ سے مغفرت کا ہو گیا سامان ہے |
| ہر گھڑی رحمت بھری ہے، ہر طرف ہیں برکتیں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے (3) |

1 ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔
2 ... وسائلِ بخشش، صفحہ:705۔
3 ... وسائلِ بخشش، صفحہ:705۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## 5 خصوصي عنايتونه

د حضرت جابِر بن عبد الله رَضِیَ اللهُ عَنْهُما نه روايت دے: د الله پاک د ټولو نه اخري نبي، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: زما اُمَّت ته پۀ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف كښې پينځه خيزونه داسې عطا كړے شول كوم چې زما نه مخكښې بَل نبي عَلَیْهِ السَّلَام ته ميلاؤ نۀ شول: (1): چې كله د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف وړومبۍ شپه راځي نو الله پاک د هغوئي طرف ته د رحمت پۀ نظر ګوري او چې كله الله پاک د چا طرف ته د رحمت نظر وكړي نو هغۀ له به چرې هم عذاب ورنكړي- (2): د ماښام پۀ وخت د هغوئي د خُلې بوئي (كوم چې د لوږې پۀ وجه وي) د الله پاک پۀ نزد د مشكو نه هم بهتر دے- (3): فرِښتے هره شپه او ورځ د هغوئي د پاره د بخښنې دعاګانې كوي- (4): الله پاک جنَّت ته حكم فرمائي چې زما د (نيكانو) بنده ګانو د پاره ښائسته شۀ ډير زر به هغوئي د دُنيا د مشقت نه زما پۀ كور او كرم كښې راحت بيامومي- (5): چې كله د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف اخرۍ شپه راځي نو الله پاک د ټولو بخنبه كوي- پۀ قوم كښې يو كَس ودريدو او عرض يې وكړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! آيا دا لَيـلَـةُ الـقَدر ده؟ ارشاد يې وفرمائيلو: نۀ، آيا تۀ نۀ وينې چې مزدوران كله د خپلو كارونو نه فارغ شي نو هغوئي له مزدوري وركولے شي- [1]

عاصیوں کی مغفرت کا لے کر آیا ہے پیام | جُھوم جاؤ مجرمو رَمضاں مہِ غُفران ہے
دو جہاں کی نعمتیں ملتی ہیں روزہ دار کو | جو نہیں رکھتا ہے روزہ وہ بڑا نادان ہے [2]

## د قيمتي لباس غلط اِستعمال

يوه ډيره ښكلې او د عبرت او نصيحت نه ډكه واقعه واورئ! د دريمې صدۍ هجرۍ

[1]… شعب الایمان، باب فی الصیام، فضائل شهر رمضان، جلد:3، صفحه:303، حدیث:3603۔
[2]… وسائلِ بخشش، صفحه:706 ملتقطاً۔

يعنې د خلافتِ بنو عبّاس د وخت خبره ده، يو ځل د وخت خليفه صوبائي ګورنرانو له عاليشان دعوت وکړو، د دې مقصد ګورنرانو له د هغوئي پۀ اعلیٰ کارکردګۍ انعامونه ورکول وو- هُغه وخت دارُ الخلافه بغداد شريف وه، نو صوبائي ګورنران پۀ شان او شوکت سره بغداد ته ورسيدل، د وخت خليفه دې ګورنرانو ته ډيرې قيمتي جامې ورکړې- ګورنرانو دغه قيمتي جامې واغوستلې او پۀ دعوت کښې شريک شول- د وخت خليفه هم موجود وو، وزيران، صلاح کاران او لوئي لوئي ګورنران هم وو، د دعوت نه خوندونه اخستے کيدل- دغه وخت يو ګورنر له تيز انتروشے(پرنجے) ورغلو او ورسره يې پوزه هم راووتله-

د وخت د خليفه پۀ موجودګۍ کښې داسې معامله---!! ګورنر پۀ دې ډير زيات وشرميدو- نوره سخته پرې دا راغله چې هُغه وخت ورسره څۀ کپړه هم نۀ وه- نو هغۀ يو طرف ته شو او د اغوستے شوو قيمتي جامو پۀ يو پلؤ يې پوزه پاکه کړه- د دۀ بد قِسمت وو چې عين پۀ دغه وخت خليفه هغۀ وليدلو- خليفه چې کله دا وليدل چې زما پۀ عطا کړے شوو قيمتي جامو پوزه صفا کوي نو خليفه غصه شو، خليفه پۀ ډک محفل کښې هُغه ګورنر وه رټلو او د دعوت نه يې ويستو- د ټول محفل ماحول بدل شو، خوند يې بے خونده شو- وزيرِ مملکت زر محفل ختم کړو او د خليفه پۀ زړۀ خوشحالولو کښې مصروف شو-

پۀ دې دعوت کښې د نَهَاوَند علاقې ګورنر اَبُو بَکر هم موجود وو- عام طور چې کله داسې معامله وشي نو عموماً د غيبتونو وغيره سلسله شروع شي، خلقو تندے راچولے وي، غصه ظاهروي، څوک چې داسې کار وکړي، د هغۀ بد بيانول شروع کړي، دا چې کوم اَبُو بَکر ګورنر وو، دۀ داسې ونکړل، دۀ چې دا معامله وليدله نو پۀ يو بَل سوچ کښې ورک شو- خير محفل ختم شو، چې کله د خليفه غصه سړه شوه نو ګورنر ابو بکر د خليفه خوا له لاړو او د خپلې ګورنرۍ استعفا يې پيش کړله- خليفه پۀ غصه باندې پوښتنه وکړه: اوس د دې څۀ مطلب دے؟ ګورنر ابو بکر ووئيل: خليفه صاحبه---!! دا

يو قيمتي جامې وې کومې چې يو انسان يو انسان له ورکړې وې، چې کله د دې قيمتي جامو غلط استعمال وکړے شو نو يو انسان، بَل انسان پهٔ محفل کښې وه رټلو- سوچ وکړئ چې **الله** پاک کوم چې د ټولو جهانونو خالق او مالِک دے، هغهٔ ما ته د انسانيت د ټولو نه قيمتي جامې عطا کړې دي او اَشرَفُ الـمخلوقات (يعنې پهٔ ټولو مخلوقاتو کښې يـې عزت والا) جوړ کړے يم- زهٔ د دې جامو غلط اِستعمال وکړم، صرف پهٔ دُنيا پسې وريسې يم، د دې پهٔ سزا کښې که **الله** پاک زهٔ د خپلې بارګاه نه وويستم نو زهٔ به څهٔ کووم--!! څکه زهٔ ګورنري پريښودل او د **الله** پاک پهٔ عبادت کښې مصروفه کيدل غواړم-

دا يـې چې ووئيل نو ګورنر اَبُو بَـکـر د محل نه بهر ووتلو، د حضرت جنيد بغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ خِدمت کښې حاضر شو او توبه يـې کړه او پهٔ عبادت او رياضت کښې مصروف شو- وروستو هم دغه ګورنر د حضرت اَبُو بَـکـر شِبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ نوم باندې مشهور شو- (1)

حضرت ابو بـکـر شبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير لوئي وَلِيُّ الله وو، هغوئي د سلسله عاليه قادريه رضويه عطّاريه دولسم شيخِ طريقت دے-

بہرِ شِبْلی شیرِ حق دُنیا کے کُتّوں سے بچا | ایک کا رکھ عَبْدِ واحِد بے ریا کے واسطے (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## خپل قيمت وو پيژنئ!

خورو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا واقعي ده چې خومره ښکلے نصيحت دے، چې د يو بادشاه ورکړے شوې جامې غلطې اِستعمال کړے شوې نو بادشاه ښه او نه ګڼل، بادشاه ګورنر وه رټلو او د محفل نه يـې بهر کړو، بيا غور وکړئ چې مونږ ته خو **الله** پاک، د ټولو جهانونو

[1] ... تذکرۃ الاولیا، جلد:2، صفحه:136 مفصلاً۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:148۔

خالِق او مالِک د انسانیت جامې راعطا کړې دي، مونږ یې اَشرَفُ الـمخلوقات جوړ کړي یو، زمونږه نیکه بابا حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته یې پهٔ فرښتو باندې سجده کړې ده۔

دا څومره لوئي کرم دے--!! که هُغه قدرتونو والا رَبّ غوښتلے نو زمونږ نه به یې څهٔ ځناور جوړ کړے وے، مهے [یعني کَب] به یې رانه جوړ کړے وے او پهٔ دریاب کښې به یې غورځولي وو، مچ، ماشے به یې رانه جوړ کړے وو، هغهٔ ته څهٔ ګرانه خو نهٔ ده هُغه رَبِّ رحمان او رحیم څومره کرم وکړو، مونږه یې انسانان یعني اَشرَفُ الـمخلوقات جوړ کړو۔ اوس سوچ وکړئ که مونږه د انسانیت شرف غلط اِستعمال کړو، د کوم مقصد د پاره چې مونږه پیدا کړے شوي او دُنیا ته رالیږلے شوي یو، مونږه هُغه مقصد پوره نکړے شو، خُدائے دې نهٔ کړي که چرې اللّٰه پاک ناراضه شو نو ووایئ چې زمونږه به څهٔ کیږي--؟ مشهور صُوفي بزرګ مولانا رُوم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اے انسانه! اللّٰه پاک ستا ډیر لوئي قیمت کیښودے دے، ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ<br>﴿پاره:11، سورهٔ توبه:111﴾ | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شک اللّٰه د مسلمانانو نه د هغوئي ځانونه او د هغوئي مالونه پهٔ دې بدله کښې پهٔ بیعه واخستل چې د هغوئي د پاره جَنَّت دے۔ |

وګوره چې اللّٰه پاک تهٔ، ستا وخت، ستا ځان، ستا مال او کاروبار اخستے دے چې دا څیزونه د هغهٔ پهٔ لاره کښې خرچ کړې نو ستا د پاره همیشه پاتې کیدونکے جنَّت دے، د اللّٰه پاک پهٔ نزد ستا داسې قیمت دے، که ځان د دوزخ پهٔ بدله خرڅ کړې نو پهٔ خپل ځان باندې ظُلم کوونکے یې۔ (1)

فرشتوں سے بہتر ہے انسان بننا | مگر اس میں لگتی ہے محنت زیادہ

---

1 ... فِيْهِ مَا فِيْهِ، صفحه:8۔

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دے د انسان اصلي قیمت--!! **الله** پاک زمونږه قیمت جنَّت ښودلے دے ❁ جنَّت د کوم یوه ملغلره چې دُنیا او څهٔ چې پهٔ دُنیا کښې دي، د دې ټولو نه زیات قیمتي او بهتره ده ❁ هُغه جنَّت چرته چې صرف عیش دے ❁ هُغه جنَّت چرته چې صرف او صرف نعمتونه دي ❁ هُغه جنَّت چرته چې غټې غټې محلونه دي ❁ هُغه جنَّت چرته چې د **الله** پاک رحمتونه نازلیږي ❁ بلکې هُغه جنَّت چرته چې به د **الله** پاک دیدار نصیب کیږي- داسې د عظمتونو والا جنَّت زمونږ د پاره جوړ کړے شوے دے، بیا که مونږه د دې جنَّت پهٔ مقابله کښې پهٔ دُنیا دارۍ کښې اخته شو، جنَّت ته بوتلونکي کارونه پریږدو او صرف پهٔ دُنیا ښه کولو، د دُنیا د ګټلو، تر دې چې د عزت، دلته پهٔ فاني شهرت پسې شو نو ووایئ چې آیا دا مونږه د خپل اَشرَفُ الـمخلوقات کیدلو صحیح استعمال وکړو--!! وه مو نهٔ کړو-

## ګوره او د سپینو زرو ګوتمه

یو بزرګ رَحمَۃُاللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: زهٔ وړوکے ماشوم ووم، هُغه وخت دومره ډیر نهٔ پوهیدم، یو ځل والِد صاحب ما له د سپینو زرو ګوتمه راوړله- ما هُغه ګوتمه پهٔ ګوته کړه او بهر لاړم- زما سره یو ټګ یعني دوکه باز کَس میلاؤ شو- د هغهٔ سره ګوړه وه- هغهٔ څهٔ وکړل چې لږه شان ګوړه یـې زما پهٔ ژبه باندې کیښودله، ما چې وَخَکله نو خوږه وه- بیا هغهٔ ووئیل: خپله دا ګوتمه ژبې له دروړه! ما چې ګوتمه ژبې له دروړله نو ظاهره ده چې د هغې خو څهٔ خوند نهٔ وو- بیا هُغه دوکه باز انسان ووئیل: ګوره زویه--!! زما سره چې کوم څیز دے، دا ډیر خوږ دے، ستا سره چې کوم څیز دے، پهٔ دې کښې هیڅ خوند نشته،لهذا تهٔ خپله دا ګوتمه ما له راکړه! او دا خوږه ګوړه تهٔ واخله--!! داسې هُغه دوکه باز زهٔ دوکه کړم او زما نه یـې د ګوړې پهٔ بدل کښې ګوتمه یوړله- (1)

---

1 ...؟؟؟_

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا واقعه زمونږ د پوهه کولو د پاره بيان کړے شوه--!! زمونږ سره هم شيطان هُم داسې کوي، اوس مونږ پهٔ دُنيا کښې يُو نو د اخرت خوند، د هٔغه ځائے د نعمتونو قدر او قيمت مونږ ته نهٔ دے معلوم ، دُنيا راته مخامخ ده، دا راته ډيره ښه ښکاري، شيطان مونږه پهٔ دُنيا کښې اخته کړي او د اخرت نه مو محرومه کړي- ✿ رَمَضَانُ المُبَارَک شريف تشريف راوړي، بيا شيطان مونږه پهٔ دُنيا دارۍ کښې اخته کړي چې ✿ رَمَضَانُ المُبَارَک شريف هُم د ګټې سيزن دے، که اوس ګټه ونکړې نو بيا به يې کله کوې ✿ اختر راروان دے، د اختر خرچې خو هم پوره کول دي ✿ نـمونځ به وکړم، الله پاک دې بس ٥م دا قبول کړي، داسې قِسمه خبرې راته راښائي او شيطان مونږه د نيکو نهٔ لرې باسي او پهٔ دُنيا کښې مو اخته کوي خو افسوس چې مونږه د دهٔ پهٔ خبرو کښې راځو او رَمَضَانُ المُبَارَک شريف هم پهٔ غفلتونو کښې تيروو- کاش چې مونږه د دې شيطاني وسوسو نه بچ شو او ټول رَمَضَانُ المُبَارَک شريف پهٔ نيکو کښې پهٔ تيرولو او هُم پهٔ نيکو پسې پهٔ نيکۍ کولو کښې مصروف شو-

## يو ډير قيمتي نصيحت

د الله پاک ډير ښکلے اِرشاد مبارک دے، فرمائي:

قُلْ اِنَّمَاۤ اَعِظُكُمْ بِوَاحِدَةٍۚ (پاره:22، سورهٔ سبا:46)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: تهٔ وفرمايه: زهٔ تاسو ته يو نصيحت کووم-

يعنې دا صِرف يو نصيحت دے او دومره د کمال او بے مثله نصيحت دے چې پهٔ دې يو نصيحت باندې عمل کول د انسان د پاره کافي دي- نصيحت څهٔ دے؟ فرمائي:

اَنْ تَقُوْمُوْا لِلّٰهِ (پاره:22، سورهٔ سبا:46)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: چې تاسو د الله د پاره ودريږئ-

يعنې اے خلقو--!! د غفلت د خوب نه رابيدار شئ! او د الله پاک د رضا د پاره

همت وکړئ--!! (1)

ځومره ښکلے نصیحت دے--!! خلق هډو ودرېږي نۀ: ❁ څوک د خپلو حقونو د پاره ودرېږي ❁ څوک د خپلې غریبۍ د ختمولو د پاره ودرېږي ❁ د چا د مالداره کیدو نشه پۀ سَر سوره وي نو همت کوي او د مال پۀ ګټلو کښې اخته کیږي ❁ د چا پۀ سَر کښې د شهرت موندلو نشه وي نو کله د یوټیوب، کله د فیس بُک او پته نۀ لګي چې څنګه څنګه ذریعې اختیاروي، مونږ ته صِرف یو نصیحت شوے دے، ډیر ښکلے نصیحت دے: د **الله** پاک د راضي کولو نشه پۀ سَر کښې پیدا کړئ! او همت وکړئ او بس هُم د دې کار د پاره ودرېږئ--!!

## راشئ--!! د نیکۍ طرف ته

**پۀ حدیثِ پاک کښې دي:** زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف** پۀ هره شپه باندې دا اِعلان کیږي: يَابَاغِيَ الْخَيْرِاَقْبِلْ وَيَابَاغِيَ الشَّرِّاَقْصِرْ اے د نیکۍ غوښتونکیه رامخکښې شه--!! اے د ګناه غوښتونکیه--!! د ګناه نه منع شه! (2)

سُبْحٰنَ الله! لکه چې د **رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف** پۀ هره شپه تر سحره پورې اِعلان کیږي: اے د **الله** پاک بنده ګانو--!! راشئ د نیکۍ طرف ته راشئ--!! اے د جنَّت طلب ګارانو--!! راشئ روژه راغلې ده ❁ اے د بخښنې غوښتلو والا--!! راشئ روژه راغلې ده ❁ اے د **الله** پاک د قرب او د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم طلب ګارانو--!! راشئ روژه راغلې ده ❁ اے نمونځونه قضا کوونکو! راشئ د نمونځونو طرف ته! روژه راغلې ده ❁ اے د جُمعې پرېښودونکو! د جومات طرف ته راشئ! روژه راغلې ده ❁ اے د ګناهونو پۀ ډنډه کښې انښتو! ګناه پرېږدئ او د رحمت طرف ته راشئ! روژه راغلې ده۔

---

1 ...منازِل السائرین للهروی، صفحه: 11 ماخوذًا۔

2 ...فضائل رمضان للمقدسی۔

| | |
|---|---|
| ہم گناہگاروں پہ یہ کتنا بڑا احسان ہے | یا خدا! تُونے عطا پھر کردیا رمضان ہے |
| ہرگھڑی رحمت بھری ہے ہرطرف ہیں برکتیں | ماہ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے |
| آگیا رمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو | فیض لے لو جلد کہ دِن تیس کا مہمان ہے(1) |

صرف د 30 ورځو میلمنه ده ❁ ښې ډیرې روژې اونیسئ! د پشیمنې او د روژه ماتې نه خوندونه واخلئ! صرف د 30 ورځو میلمنه ده ❁ پینځه واره نـمونځونه په جومات کښې وکړئ! صرف د 30 ورځو میلمنه ده ❁ په کثرت سره نفلونه وکړئ! تهجد هم وکړئ! ❁ اشراق، څاخت او د اوابین نفلونه هم وکړئ! صرف د 30 ورځو میلمنه ده ❁ ښه ډیر تلاوت وکړئ! ❁ صدقه او خیرات وکړئ! ❁ بلکې زۀ خو وایم چې هُم د ټولې میاشت اِعتکاف وکړئ! صرف او صرف د 30 ورځو میلمنه ده، هغه هم څۀ پته لګي که د 29 شي ❁ بس د الله پاک پۀ کور کښې کښېنئ! د رحمت پۀ دروازه پسې وه انخلئ! چې بس اوس خو به پرې هُم ځان بخښنم۔

| | |
|---|---|
| اَبرِ رحمت چھاگیا ہے اور سماں ہے نُورنُور | فضلِ ربّ سے مغفرت کا ہوگیا سامان ہے(2) |

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف راروان دے، دا یوه میاشت د الله پاک پۀ نوم کړئ ❁ دُنیا داري به هُم روانه وي ❁ زمونږ دا اخوا دیخوا مصروفیات به هم روان وي، دا هر څۀ د ژوند حصه ده۔ کاش چې مونږه یوه میاشت یعنې رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف صرف او صرف د نیک کارونو د پاره خاص کړو چې پۀ دې میاشت کښې بس هُم عبادت کول دي، هُم نیکۍ کول دي۔ چې مونږه دا یوه میاشت د نیک کارونو د پاره خاص کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! د دې پۀ برکت به ټول کال بلکې ټول ژوند بلکې که الله پاک وغوښتل نو اخرت به مو هم ښه شي۔

---

[1] ...؟؟؟۔

[2] ...؟؟؟۔

## د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام یوه ادا

د **اللّٰه** پاک نبي دے: حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام- هغوئي ډیر د اوچتې مرتبے والا نبي دے، کوم چې **اللّٰه** پاک کوهِ طُور ته وبللو او د کلام کولو شرف یې ورعطا کړلو-

سُبْحٰنَ الله! څومره د لوئي شان والا نبي دے- چې کله فرعون بدبخته د خپل قوم سره پۀ نیل دریاب کښې غرق شو، د هغې نه پس **اللّٰه** پاک حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ته حکم وکړو: اے موسیٰ! کوهِ طُور ته راشئ! هلته ایسار شئ او روژې اونیسئ! د بني اسرائیلو 70 کسان هم د ځان سره راولئ! تاسو ته به تورات شریف عطا کولے شي- حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام پۀ حکم باندې عمل وکړو، 70 کسان یې د ځان سره کړل او د کوهِ طُور طرف ته روان شو-

بیا چې دغلته د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام کوم مبارک انداز وو، هغه ډیر ښکلے او خوږ وو، هغوئي هُغه 70 کسانو ته وفرمائیل: زۀ کوهِ طُور ته زر ځم، تاسو پۀ ما پسې وروستو راځئ- دا یې چې ووئیل نو هغوئي زر کوهِ طُور ته اورسیدل- **اللّٰه** پاک وفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَمَاۤ اَعۡجَلَكَ عَنۡ قَوۡمِكَ یٰمُوۡسٰی ﴿۸۳﴾ (پارہ:16، سورۂ طه:83) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او اے موسیٰ تۀ د خپل قوم نه کوم څیز پۀ تادی کښې مبتلا کړلې؟ |

یعني اے موسیٰ! تاسو بني اسرائیل وروستو پریښودل او زر زر ولې راغلئ---؟ عرض یې وکړو:

| | |
|---|---|
| عَجِلۡتُ اِلَیۡكَ رَبِّ لِتَرۡضٰی ﴿۸۴﴾ (پارہ:16، سورۂ طه:84) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے زما رَبه! ما ستا طرف ته څکه تادي وکړه چې تۀ راضي شې- |

یعني اے خوږ الله کریمه! ستا پۀ حکم باندې د عمل کولو، کوهِ طُور ته د رارسیدلو او زر تر زره د روژو شروع کولو، پۀ عبادت کښې د مصروفه کیدلو او هُم ستا د راضي

کولو دومره شوق وو چې ایساریدے نهٔ شوم، ځکه زهٔ زر زر راغلم او راورسیدم- [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام چرته تللو--؟ کوهِ طُور ته- څهٔ یـې کول؟ د روژو نیولو حڪم وو، بیا ورته تورات شریف عطا کیدلو- د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د دې سره داسې شوق شو چې هغوئي د دې کار د پاره تادي وفرمائیله- اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❀ رَمَضَانُ المُبَارَک شریف تشریف راوړي ❀ د روژو نیولو میاشت راروانه ده ❀ د عبادت کولو میاشت راروانه ده ❀ د توبې کولو میاشت راروانه ده ❀ د نیکو طرف ته د ورمخکښې کیدولو میاشت راروانه ده ❀ عبادت ته د ملا کلکې تړلو میاشت راروانه ده- چې مونړه هم د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ښکلې ادا نه سبق حاصل کړو، تادي وکړو، د الله پاک د رضا موندلو پهٔ شوق کښې د ټولو نه مخکښې لاړ شو ❀ زر تر زره توبه وکړو ❀ د نیک کارونو فهرست جوړ کړو ❀ رَمَضَانُ المُبَارَک شریف څنګه تیرول دي، زر تر زره جدول جوړ کړو او د پوره شوق سره، د مخکښې نه د تیارئ سره رَمَضَانُ المُبَارَک شریف ته پهٔ ډیره ښه طریقه پهٔ هر کلي وئیلو کښې کامیاب شو-

## رَمَضَانُ المُبَارَک شریف د الله پاک پهٔ نوم

پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: الله پاک ستاسو د پاره 11 میاشتې ساتلې دي، پهٔ دې کښې خورئ! څښئ! مزې کوئ! خو یوه میاشت یـې د ځان د پاره خاص کړې ده فَاتَّقُوْا شَهْرَ رَمضَان فَاِنَّهٗ شَهْرُالله یعني د روژې د میاشت نه ویریږئ! بے شکه دا د الله پاک میاشت ده- [2]

| | |
|---|---|
| آگیا رَمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو | فیض لے لو جلد یہ دن تیس کا مہمان ہے |
| بھائیو بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں | پڑگئے دوزخ پہ تالے قید میں شیطان ہے [3] |

---

1 ... صاوی-

2 ... شُعَبُ الْاِیمان، باب فی الصیام، فصل فی فضائل شهر رَمضَان، جلد:3، صفحه:312، حدیث:3632-

3 ... وسائلِ بخشش، صفحه:705، 706 ملتقطاً-

سُبْحٰنَ الله! رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف د الله پاک میاشت ده- ټولې میاشتې هم د الله پاک دي، ورځې، میاشتې، کلونه هر څۀ هٔغه پاک رَبّ جوړ کړي دي، هم هغۀ دا نظام چلوي، هُم هغۀ خالق دے، هُم هغۀ مالِک دے- ټولې میاشتې هم د هغۀ دي خو د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف خاص طور د الله پاک طرف ته نسبت دے- لکه څنګه چې ټوله زمکه د الله پاک ده خو صرف جومات ته د الله پاک کور وئیلے شي، مطلب څۀ دے؟ دا چې ټولې زمکې ښې دي خو د جومات عظمت ډیر زیات دے ❁ پۀ کور کښې چې نفل کوې نو ثواب به میلاؤیږي، که جومات ته راشې او اوئې کړې نو زیات ثواب به میلاؤیږي ❁ که بهر نافرماني وکړې نو ګناه ده، که جومات ته راشې او اوئې کړې نو ډیره ګناه ده- هم دغه شان رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف د الله پاک میاشت ده- یعني ټولې میاشتې ښې دي او د فضیلت والا دي خو رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف ډیره د فضیلت والا میاشت ده- که پۀ عامو ورځو کښې نیکي وکړې نو ثواب به دې کیږي، که پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې نیکې وکړې نو ډیر زیات ثواب به دې کیږي، که پۀ عامو ورځو کښې ګناه وکړې نو ګناه به وي، که پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې ګناه وکړې نو ډیره ګناه به وي- ځکه چې دا د الله پاک میاشت ده-

## پۀ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې د ګناه وَبَال

خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوک چې پۀ رمضان کښې د ګناه کار کوي، الله پاک د هغۀ د ټول کال اعمال ضائع کوي- [1]

الله پاک دې مونږ ته د ګناهونو نه د بچ کیدو او ټول رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف پۀ نیکو کښې د تیرولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

[1]... معجم اوسط، جلد:2، صفحه:414، حدیث:3688-

## څومره د محرومۍ خبره ده---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف تشریف راوړي، نیت وکړئ چې مونږ به هُم ټول رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف په نیکو کښې تیروو- مولانا رُوم رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه یو ځل چا ته نصیحت کولو، هغوئي ډیره ښه خبره وکړه، اوئې فرمائیل: څومره محرومه دے هغه بنده کوم چې تر سمندره پورې وَرسي او بیا هم د هلته نه صرف یو ګلاس اوبه راوړي او واپس راشي- په سمندر کښې خو لعلونه هم وي، ملغلري جواهرات هم وي، ډیر زیات عظیم نعمتونه په سمندر کښې وي، چې تر سمندره پورې رسیدلے دے نو بیا یو ګلاس اوبه ولې راخلي--؟ (1)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف تشریف راوړي، هغه میاشت په کومه کښې چې د فرضو ثواب 70 چنده زیاتولے شي ❁ د نفلونو ثواب د فرضو برابرولے شي ❁ روزانه په لکونو خلق بخښلے کیږي ❁ شپه او ورځ صرف او صرف رحمتونه راوریږي، بیا چې په قِسمت باندې کله زمونږه رَمَضَانُ المُبَارَک شریف نصیب شوه نو بیا صرف پینځه نـمونځونه ولې وکړو؟ ❁ صرف هُم 20 رکعته تراویح ولې وکړو؟ ❁ صرف روژه ولې اونیسو او لوږه او تنده برداشت کړو؟ د دې سره سره د تهجدو، اِشراق، څاښت او د اوابینو نفلونه ولې نهٔ کوو؟ ❁ شپې په عبادت کښې ولې نهٔ تیروو؟ ❁ د درودِ پاک کثرت او د زیاتو نه د زیات ثواب ګټلو کوشش ولې نهٔ کوو؟ د تِلاوت کثرت او په یو یو حرف باندې څو څو چنده نیکئ ولې نهٔ ګټو--؟ چې رَمَضَانُ المُبَارَک شریف مو نصیب شوې ده، بیا خو پکار ده چې په جولو جولو رحمتونه حاصل کړو، شپه او ورځ، سحر او ماښام بس هُم په نیکو پسې نیکئ کوو، خپل ځان په عبادت کښې داسې مشغول کړو چې بس دُنیا رانه هیره شي-

---

1 ...؟؟؟-

ہر گھڑی رحمت بھری ہے ہر طرف ہیں برکتیں | ماہِ رمضاں رحمتوں اور برکتوں کی کان ہے[1]

## عبادت ته به يې ملا کلکه تړله

د مسلمانانو خوږه مور جانه، حضرت عائشه صِدّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللہُ عَنۡہا فرمائي: چې کله به رَمَضَانُ المُبَارَک شريف تشريف راوړلو نو خوږ آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به عبادت ته ملا تړله-[2]

اِمام نَوَوِي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: عبادت ته د ملا تړلو معنیٰ دا ده چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به عام وختونو کښې څومره عبادت کولو نو په رَمَضَانُ المُبَارَک شريف کښې به يې د هغې نه زيات عبادت کولو-[3]

سُبۡحٰنَ الله! دا زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے د چا چې هر يو عمل عبادت دے بلکې رښتيا خبره خو دا ده چې د هغوئي اداګانې اختيارول په حقيقت کښې عبادت دے- د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو سعت، يو سيکنډ هم داسې نشته کوم چې مَعَاذَ الله! فضول تير شوے وي، د دې باوجود به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په رَمَضَانُ المُبَارَک شريف کښې عبادتونه زياتول- دا زمونږ د پاره سبق دے، مونږ له هم پکار دي چې کله رَمَضَانُ المُبَارَک شريف تشريف راوړي، نو بس عبادت ته ملا کلکه وتړو- د دې په برکت باندې به مو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! دُنيا هم ښه شي او اخرت به مو هم ښه شي-

آگیا رمضاں عبادت پر کمر اب باندھ لو | فیض لے لو جلد کہ دن تیس کا مہمان ہے[4]

## مالِک ډير کريم دے

حضرت وَهب بن مُنبه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د بني اسرائيلو يو ګس وو، ډير عبادت ګزار

---

1 ...؟؟؟؟-

2 ... شُعَبُ الْاِيمان، جلد:3، صفحه:310، حديث:3624-

3 ... فيض القدير، جلد:5، صفحه:168، تحت الحديث:6680-

4 ... ؟؟؟-

وو، د ضرورت مطابق به یـې حلال رزق ګټلو او باقي ټول وخت به یـې په عبادت کښې تیرولو- یو ځل داسې وشو چې هغۀ ته پرله پسې ډیرې ورځې څۀ مزدوري میلاو نۀ شوه، خبره لوږې ته ورسیدله، یوه ورځ دا د کار لټولو د پاره د کور نه ووتو، چې کله ورته څۀ کار میلاؤ نۀ شو نو سوچ یـې وکړو چې د **اللّٰه** پاک عبادت کووم- نو د دریاب غاړې ته لاړو، اودس یـې وکړو او ټوله ورځ یـې په عبادت کښې تیره کړله- چې ماښام شو نو کور ته واپس راغلو، ګټلي خو یـې هیڅ هم نۀ وو، لاسونه یـې خالي وو، کور والؤ چې ترینه پوښتنه وکړه نو اوئې وئیل: نن مې د ډیر کریم مالِک سره مزدوري وکړه او راغلم ، هغۀ به ما ته ډیر ښه اُجرت راعطا کوي-

پۀ نهره که هر څنګه وه شپه هم تیره شوه- بَل سحر بیا د کار پۀ لټون کښې ووتو، نن ورته هم کار میلاؤ نۀ شو، د دریاب غاړې ته لاړو او دا ورځ یـې هم ټوله پۀ عبادت کښې تیره کړله- ماښام بیا خالي لاسونه کور ته راغلو- لوږې وهلې کور والې چې یـې وکتل نو پۀ جذباتو کښې یـې ووئیل: د څومره ورځو نه لوږې دي، د ماشومانو حالت داسې شوے دے چې د کتلو نۀ دے او ستاسو مالِک دے چې اُجرت نۀ درکوي- داسې به ګزاره څنګه کیږي؟

هغې ته څۀ پته وه چې زما خاوند د کوم مالِک سره مزدوري کوي- دې عبادت ګزاره نیک انسان چې د خپلې کور والې خبره واوریدله نو پۀ زړۀ کښې پریشانه شو، ټوله شپه یـې پۀ غم او پریشانۍ کښې ډډې پۀ ډډې پۀ اوختو کښې تیره کړله- پۀ بله ورځ بیا د مزدورۍ د پاره ووتو، نن ورته هم کار میلاؤ نۀ شو، بیا د دریاب غاړې ته لاړو، اودس یـې وکړو او پۀ عبادت کښې مصروف شو-

ټوله ورځ خو پۀ عبادت کښې، د **اللّٰه** پاک پۀ یاد کښې پۀ خوشحالۍ تیره شوه خو چې کله ماښام شو او کور ته د تللو وخت شو نو بیا پریشانه شو، بیا دغه نیک انسان د کور طرف ته روان وو، لاسونه یـې نن هم خالي وو، ښپې پرې درَنې درَنې کیدلې، پۀ زړۀ کښې

یـې بیا بیا خیال راتللو چې بچو ته به څۀ وایم، څنګه به یـې دلاسه کووم- هُم پۀ دې سوچونو کښې د پریشانۍ پۀ حالت کښې د کور طرف ته روان وو، چې کله کور ته نزدې شو نو څۀ ګوري چې د کور نه یـې د ښه خوراکونو خوشبوئي راځي، داسې ښکاریدله لکه چې دننه خوشحالي وي، د یو سعت د پاره خو ورته ولګیدله چې کیدے شي د بل چا کور ته راغلے یم، بیا یـې چې کله دروازه وډبوله نو ښځې یـې پۀ خندا او پۀ مُسکا او پۀ خوشحالۍ خوشحالۍ دروازه برسیره کړه، پۀ کتلو یـې ووئیل: تۀ چې د کوم مالِک سره کار کوې، هغۀ واقعي ده چې ډیر کریم دے، نن ستاسو د تللو نه پس د هغۀ قاصِد راغلو، هغۀ ډیرې زیاتې پیسې او د خوراک څیزونه راکړل او اوئې وئیل: چې کله ستا خاوند راشي نو هغۀ ته سلام وایه او ورته ووایه چې ستا مالِک ستا د عمل نه راضي دے، دا ستا د محنت بدله ده- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! واقعي رښتیا خبره ده، څوک چې د نیکۍ لار اختیار کړي نو الله پاک د هغۀ ټول وران کارونه سم کړي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! رَمَضَانُ المُبَارَک شریف تشریف راوړي، راځئ چې دا یوه میاشت مونږه د الله پاک پۀ نوم کړو، بس پوخ ذِهن جوړ کړو چې نور کارونه که کیږي او که نۀ کیږي، عبادت به ضرور کووم، د نیکۍ کارونه به لازمي کووم، پۀ دې میاشت کښې به لږه ګټه وکړم خو پۀ نیکو کښې به هیڅکله هم کمے ونکړم-

## عبادت وکړئ--!! ښۀ په کلکه یې وکړئ!

پۀ 16 سیپاره، سورۀ مریم آیت: 65 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَیْنَهُمَا فَاعْبُدْهُ وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖؕ (پاره:16، سورۀ مریم:65) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: د اسمانونو او زمکې او څۀ چې د دې پۀ مینځ کښې دي د ټولو رب (هُم هغۀ دے) نو هُم د هغۀ عبادت کوه او د هغۀ پۀ عبادت کلک ودریږه- |

1 ... عیون الحکایات-

یعنې هغه هُم الله پاک دے څوک چې د زمکې او اسمان خالِق هم دے، مالِک هم دے، هُم هغهٔ د ټولو جهانونو پالونکے دے، بس د هغهٔ عبادت کوئ! او اوئې فرمائیل:

وَاصْطَبِرْ لِعِبَادَتِهٖ ؕ
(پاره:16، سورهٔ مریم:65)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغهٔ په عبادت کلک ودریږه۔

یعنې د عبادت په لاره کښې به مشکلات راځي، مشقت به وي خو تاسو په دې باندې ثابت قدم اوسئ، کلک ودریږئ او د مستقل مزاجۍ سره عبادت کوئ! (1)

## پهٔ ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې عبادت وکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا یو بهترین سبق دے: عبادت کول او کلک ودریدل او د مستقل مزاجۍ سره کول- دلته دا یوه غټه مسئله ده- زمونږ د عبادت طرف ته رغبت خو پیدا شي خو پهٔ دې باندې اِستقامت نهٔ اختیاروو، کلک نهٔ ودریږو او عبادت نهٔ کوو- اوس چې لکه څنګه رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف تشریف راوړي ، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف د راتللو سره د عبادت رغبت زیات شي، مونږه ډیرې نیکۍ ارادې وکړو خو پهٔ ورو ورو پهٔ شوق کښې کمے راتلل شروع شي، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف پهٔ وړومبۍ عشره کښې پهٔ جوماتونو کښې ګڼه وي، پهٔ تراویح کښې هم ډیر خلق پهٔ نظر راځي، د تِلاوت طرف ته هم د خلقو رغبت وي خو پهٔ دویمه عشره کښې دا شوق کم شي، د نمونځ کوونکو شمیره هم کمه شي، پهٔ تراویح کښې هم ډیر کم خلق پاتې شي، دا چې کوم کمے دے، دا نهٔ دے پکار، دا ښه خبره نهٔ ده-

## خوښ عمل کوم یو دے؟

د مسلمانانو د خوږې مور جانې سیده عائشه صِدِّیقه، طیبه طاهره رَضِیَ اللہُ عَنۡهَا نه پوښتنه وکړے شوه: د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه خوښ عمل

1... تفسیر کبیر، پاره:16، سورهٔ مریم، زیر آیت:65، جلد:7، صفحه:555 خلاصةً۔

کوم يو وو؟ اوئې فرمائيل: مَادِيۡمَ عَلَيۡهِ هغه نيک کار په کوم باندې چې هميش والے اختيار کړے شي۔ (1)

معلومه شوه چې مونږ دپاره عبادت کول پکار دي، کلک ودريدل پکار دي او کول دي، هُم په ټول رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې کول پکار دي، د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف نه پس هم بلکې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! تر مرګه پورې عبادت کول پکار دي۔

## د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف 5 خصوصي عبادتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الأُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف 5 خصوصي عبادتونه دي: (1): روژه (2): تراويح (3): د قرآنِ پاک تلاوت (4): د شبِ قدر عبادت (5): او اِعتکاف۔ (2)

## (1): د روژې فضائِل

هسې خو په عامو ورځو کښې هم نفلي روژې نيولے کيږي خو د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف روژې الله پاک فرض کړې دي۔ په قرآنِ کريم کښې دي:

فَمَنۡ شَهِدَ مِنۡكُمُ الشَّهۡرَ فَلۡيَصُمۡهُ ؕ (پاره:2، البقره:185):(183)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: نو په تاسو کښې چې څوک دا مياشت بياموځي نو ضرور دې د دې روژې اُونيسي،

## د حشر په ميدان کښې به د روژه نيوونکو مزې وي

د حضرت اَنَس بنِ مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه روايت دے، د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د قيامت په ورځ باندې به د روژه نيوونکو د خُلې نه د مشکو بوئې ځي، د دوئې د پاره به د عرش په سورې کښې يو دسترخوان لګولے شي،

---

[1]... ترمذی، کتاب الادب، صفحه:664، حديث:3856۔

[2]... تفسير نعيمی، پاره:2، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:185، جلد:2، صفحه:228۔

روژه نیوونکي به د دغه دسترخوان نه خوراک څښاک کوي او خلق به د حساب کتاب په مشقت کښې اخته وي- (1)

| | |
|---|---|
| تراویح اور نمازوں میں کمی ہو گی نہ روزوں میں | کرو مل کر یہ نیّت ماہِ رمضان آنے والا ہے |
| نبی کے عشق میں روؤں، مدینے کے لئے تڑپوں | خُدا دے سوز و رِقّت ماہِ رمضان آنے والا ہے |
| رہوں قائِم میں توبہ پر، خُدا فضل ایسا کر | گُناہوں سے دے نفرت ماہِ رمضان آنے والا ہے |

## (2): د تراویح د نـمونځ کولو فضائل

د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف دویم اهم عبادت دے، کوم چې هم په رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې کولے شي، هغه دے: د تراویح نـمونځ- په رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې تراویح کول سُنَّتِ مؤکده دي- (2)

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: کوم بنده چې د روژې د میاشتي په شپه کښې نـمونځ کوي، الله پاک د هغهٔ د هرې سجدې په بدل کښې د هغهٔ د پاره 1500 نیکۍ لیکي او د هغهٔ د پاره په جنَّت کښې د سرو یاقوتو کور جوړوي، نور یـې فرمائیلي دي: بنده چې د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف په شپه کښې یا په ورځ کښې کله هم سجده کوي، د هغهٔ د هرې سجدې په بدل کښې به په جنَّت کښې یوه داسې وَنه لګولے شي چې د هغې په سوري کښې به په اَس سور 500 کاله مزل کولے شي- (3)

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د رحمت نه زار شم چې په رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې صرف په یوه سجده کولو باندې 1500 نیکۍ میلاؤیږي، په جنَّت کښې د سرو یاقوتو کور جوړولے شي او په جنَّت کښې دومره غټه وَنه لګولے شي چې په اَس سور به د هغې په سوري کښې تر 500 کالو پورې مزل کولے شي- د دې نه دې هٔغه خلق سبق حاصل کړي

1... لطائف المعارف، وظائف شهر رمضان المعظم، صفحه:218-
2... رد المحتار، کتاب الصلاة، باب الوتر والنوافل، مبحث صلاة التراویح، جلد:2، صفحه:596-
3... شعب الایمان، باب فی الصیام، جلد:3، صفحه:314، حدیث:3635-

کوم چې مَعَاذَ الله! د تراويح نـمونځ نهٔ کوي يا کوي يـې خو 20 رکعته پوره نهٔ کوي- غور وکړئ چې د تراويح د نـمونځ پهٔ 20 رکعتونو کښې 40 سجدې دي، يعنې چې څوک 20 رکعته تراويح وکړي نو د الله پاک د رحمت نه اُميد دے چې هغهٔ ته 60 زره نیکۍ میلاؤ شي، پهٔ جنَّت کښې به 40 وَنې لګي او 40 جنَّتي محلونه به ورته عطا کيږي، دا لا صرف د سجدو نیکۍ دي، د قيام، رکوع او د تراويح پهٔ نـمونځ کښې د قرآنِ کريم د اوريدو، دومره وخت پهٔ جومات کښې د تيرولو وغيره ثواب د دې نه علاوه دے- کوم نادانه چې 8 رکعته تراويح کوي او کورونو ته ځي، هغوئي لکه چې د 36 زرو نيکو، د 24 جنَّتي محلونو او د 24 جنَّتي وَنو نه محرومه پاتې کيږي او څوک چې په12 رکعتونه کولو ستړي کيږي، هغوئي د 24 زرو نيکو، د 16 جنَّتي محلونو او د 16 جنَّتي وَنو نه محرومه پاتې کيږي، دا لا پهٔ حديثِ پاک کښې د بيان کړے شوې شميرې مطابق ظاهري شميره ده، که د الله پاک رحمت ته نظر وکړے شي نو د 20 رکعتونو د تراويح نـمونځ د کوونکو خوش قِسمتۍ او پهٔ نيمه کښې د تراويح کوونکو او کور ته د تلونکو د محرومۍ اندازه لګول هُم ممکن نهٔ ده-

بھائیو! بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں | پڑ گئے دوزَخ پہ تالے، قید میں شیطان ہے
بھائیو! بہنو! گُناہوں سے سبھی توبہ کرو | خُلد کے دَر کھل گئے ہیں داخِلہ آسان ہے[1]

## (3): د قرآنِ پاک تِلاوت

د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف دريم اهم عبادت دے: د قرآنِ پاک تِلاوت- زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې پهٔ کثرت سره تِلاوت فرمائيلو، حضرت جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام به پهٔ خِدمت کښې حاضريدلو، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د فرښتو د سردار حضرت جبريلِ امين

[1]... وسائل بخشش، صفحه:706۔

عَلَيْهِ السَّلَام سره د قرآنِ کريم دَور کولو- (1)

## پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې پهٔ کثرت سره تلاوت کوونکي

دغه شان به زمونږه بزرګانِ دِين، د الله پاک نيکانو بنده ګانو هم پهٔ عامو ورځو کښې هُم تلاوت کولو خو پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې به د هغوئي د تلاوت شوق نور هم زياتيدلو ❁ بعضي اوليائے کرامو رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِم به پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې پهٔ دريو شپو کښې يو ځل د قرآنِ پاک ختم کولو ❁ حضرت اَسوَد رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې پهٔ هرو دوو شپو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو ❁ د اِمامِ نخعي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه معمول مبارک دا وو چې هغوئي به د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف د وړومبو 20 ورځو پهٔ هرو دريو ورځو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم فرمائيلو او پهٔ اخري عشره کښې به يـې پهٔ هرو دوو شپو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم فرمائيلو ❁ حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنهُ به هميشه (يعني د کال پهٔ عامو ورځو کښې هم) پهٔ 7 ورځو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو خو چې کله به د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف مياشت راتلله نو د حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنهُ به د تلاوت شوق نور هم زياتيدلو او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنهُ به پهٔ هرو دريو ورځو کښې يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو، بيا چې به کله اخري عشره راتلله نو د تلاوت شوق به نور هم زياتيدلو او حضرت قتاده رَضِيَ اللهُ عَنهُ به هره ورځ يو ځل د قرآنِ کريم ختم کولو ❁ اِمامِ شافعي رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې 60 کرته د قرآنِ کريم ختم کولو- (2) ❁ او د اِمامِ اعظم، اِمام ابو حنيفه رَحمَةُ اللهِ عَلَيه هُم خومره ښکلے شان دے، اِمامِ اعظم رَحمَةُ اللهِ عَلَيه به پهٔ رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شريف کښې 61 کرته د قرآنِ کريم ختم فرمائيلو، 30 کرته د ورځې او 30 کرته به يـې د شپې او يو ځل به يـې پهٔ تراويح کښې د

---

[1] ...؟؟؟۔

[2] ... لطائف المعارف، وظائف شهر رمضان المعظم، صفحه:237۔

قرآنِ کریم ختم کولو- (1)

کاش چې زمونږه هم دا توفیق نصیب شي چې مونږه هم د قرآنِ کریم تلاوت وکړو-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

ہر روز میں قرآن پڑھوں کاش! خدایا | اللہ! تلاوت میں مرے دِل کو لگا دے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (4): پۀ شبِ قدر کښې عبادت کول

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف خلورم اهم او خصوصي عبادت دے: پۀ شبِ قدر کښې عبادت کول- شبِ قدر ډیره د برکت شپه ده، دې ته لَیـلَةُ الـقَدر هم وئیلے شي- اللہ پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| ترجمهٔ کنزُ العِرفان | |
|---|---|
| لَیْلَةُ الْقَدْرِ ﴰ خَیْرٌ مِّنْ اَلْفِ شَهْرٍ ؃ (پاره:30، سورۀ قدر، آیت:3) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: شبِ قدر د زرو میاشتو نه بهتره ده- |

سُبْحٰنَ اللہ! کوم بنده چې پۀ شبِ قدر کښې عبادت وکړي نو هغۀ ته د زرو [1000] میاشتو (یعني د 83 کالو 4 میاشتو) نه هم د زیات عبادت ثواب میلاؤیږي-

شبِ قدر د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف د اخرئ عشرې پۀ طاق شپو (یعني یویشتمه، درویشتمه، پینځویشتمه، اووه ویشتمه او نهه ویشتمه شپه) کښې یوه شپه وي، پۀ دې باره کښې نور هم ډیر اَقوال دي، زیاتره علمائے کرام دې طرف ته دي چې د رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف پۀ اووه ویشتمه شپه شبِ قدر وي- (2) مونږ له پکار دي چې هُم پۀ ټول رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف کښې د غفلت نه بچ شو او خاص طور د اخرئ شپې پۀ طاق شپو کښې خو ضرور بالضرور عبادت وکړو-

---

[1] ... بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:695، حصه:4-

[2] ... ؟؟؟-

بھائیو! بہنو! کرو سب نیکیوں پر نیکیاں | پڑ گئے دوزَخ پہ تالے، قید میں شیطان ہے
بھائیو! بہنو! گُناہوں سے سبھی توبہ کرو | خُلد کے دَر کھل گئے ہیں داخِلہ آسان ہے[1]

## (5): اِعتکاف

د رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف پینځم اهم عبادت دے: اِعتکاف- نفلي اِعتکاف خو هر وخت کیدے شي خو کوم اِعتکاف چې سنّتِ مُؤَکّدہعَلَی الْکِفَایه دے، هغه صرف پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې کیږي- د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه د ټول رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف اِعتکاف کول هم ثابت دي او د اخرئ عشرې اِعتکاف خو زمونږه د آقا و مولیٰ، تاجدارِ انبیا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ډیر خوښ وو، نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د اخرئ عشرې د اِعتکاف ډیر اهتمام فرمائیلو-[2]

## د اِعتکاف په فضیلت باندې دوه حدیثونه

❀ د مسلمانانو د خوږې مور جاني حضرت عائشه صِدِّیقه، طیبه طاهره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا نه روایت دے: مَنِ اعْتَکَفَ اِیْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَہٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِہٖ یعنې چا چې د ایمان په حالت کښې د ثواب حاصلولو پۀ نیت اِعتکاف وکړو د هغۀ وروستني ګناهونه به اوبخښلے شي- [3] ❀ پۀ یو بل حدیثِ پاک کښې یې فرمائیلي دي: چا چې پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې لس ورځې اِعتکاف وکړو هغۀ داسې دے لکه چې دوه حجونه او دوه عمرې یې وکړې- [4]

## د اِجتماعي اِعتکاف ترغیب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوت اسلامي پۀ

1...وسائل بخشش، صفحه:706-
2...فیضانِ رمضان، صفحه:227-
3...جَامِع صغِیر، صفحه:516، حدیث:8480-
4...جَامِع صغِیر، صفحه:516، حدیث:8479-

ټوله دنیا کښې د نیکۍ دعوت عام کولو کښې مصروف دے، د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د فیضان موندلو، د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیک نـمونځ ګزاره جوړیدو د پاره د عاشقانِ رسول د دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د دیني ماحول سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د نګرانۍ لاندې په ټوله دنیا کښې په زرګونو ځایونو کښې اجتماعي اِعتکاف هم کولے شي، تاسو هم کوشش وکړئ چې د روژې د ټولې میاشتې د اِعتکاف سعادت حاصل کړئ! بلکې په عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) کښې اِعتکاف وکړئ! چې هلته به مو د شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د وخت د یو کامِل وَلي سره د اِعتکاف کولو سعادت نصیب شي نو د دې برکتونه به هُم جدا وي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په رَمَضَانُ الْمُبَارَک شریف کښې به د ګناهونو نه د بچ کیدو، د نیکو کولو، د نفل عبادتونو شوق زیاتیدو سره سره ډیر عِلمِ دِین هم زده کړئ-

## بزرګان یاد ساتئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! رمضان شریف مونږ ته خپل ډیر بزرګان رایادوي. مثلاً په دریم رمضان شریف زمونږ د خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې او نازولې شهزادګۍ خاتُونِ جنّت حضرت سیده **فاطمة الزهرا** رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهَا یومِ وِصَال دے، اَلْحَمْدُلِلّٰه! هغه ډیر اوچت شان والا ده، خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغې ته د خپل ځیګر ټکړه وئیلې ده.(1) او د هغې ډیر فضائل یې بیان کړي دي.

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دُخترِ | مصطفٰے | سیده | فاطمہ! | زوجۂ | مرتضٰی | سیده | فاطمہ! |
| صالحہ، | پارسا | سیده | فاطمہ! | طیبہ | طاہرہ | سیده | فاطمہ! |

1...بخاری، کتاب:النکاح، صفحہ:1344، حدیث:5230-

عابِدہ، زاہِدہ | سیدہ فاطمہ! | صابِرہ، شاکِرہ | سیدہ فاطمہ!

❁هُم داسې په دريم **رمضان شريف** د مشهور مُفَسِّرِقرآن مفتی احمد یار خان نعیمی رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه عرسِ پاک هُم دے❁ په 29 شعبان د مَرحُوم نګرانِ شُوریٰ حاجی مشتاق رَحۡمَۃُاللهِعَلَیۡه یومِ وِصَال دے ❁ په 10 رمضان شريف د مسلمانانو د خوږې مورجاني حضرت خدیجة الکبریٰ رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا او ❁په 17 رمضان شريف د سيده عائشه صِدّيقه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا، ❁په 19 رمضان شريف د خوږ آقا، مکی مدنی مصطفٰی صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د بلې شهزادګۍ حضرت رُقَيَّه رَضِیَ اللهُ عَنۡهَا او ❁په 21 رمضان شريف د مسلمانانو د څلورم خلیفه مولائے کائنات حضرت مولیٰ علی المرتضٰی شیرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنۡه یومِ وِصَال دے. خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنۡ کُنۡتُ مَوۡلَاہُ فَعَلِیٌّ مَوۡلَاہُ يعنې د چا چې زۀ مولیٰ (یعنی محبوب او مددګار) یم، نو دا علي هُم د هغۀ مولا (یعنی محبوب او مددګار) دے.(1)

عاشِقِ مصطفٰے | مرتضٰی! مرتضٰی! | سیّدُ الْاَوْلیا | مرتضٰی! مرتضٰی!

بِالیقیں دِلیر ہیں | مرتضٰی! مرتضٰی! | اپنے رَبّ کے شیر ہیں | مرتضٰی! مرتضٰی!

غرض دا چې په رمضان شريف کښې د ډيرو بزرګانو عُرسونه راځي، کوشش وکړئ! د دوئي د ایصالِ ثواب اهتمام وکړئ! د دوئي د پاره د قرآن پاک ختمونه وکړئ! که **الله** پاک توفيق درکړے وي نو په دې ورځو کښې په غريبانو او مسکينانو روژه ماتے وکړئ! دا هُم کيدے شي چې د هر روژه ماتي په وخت يو ځل سُورۀفاتحه، او درې ځله سورۀاِخلاص لولئ او ټولو بزرګانو او نيکانو ته يې اِيصالِ ثواب کوئ، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیۡم! په داسې کولو به مو د نيکو ثواب هُم زيات شي او که **الله** پاک اوغواړي نو د دې بزرګانو برکتونه به هُم درنصيب شي. **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

---

1...ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله، باب مناقب علی...الخ، صفحہ:846، حدیث:3722۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د عطياتو ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! ستاسو خپل دِيني تحريک دعوتِ اِسلامي دا وخت د اتياؤ [80] نه پهٔ زياتو شعبو کښې د دِين خدمت کوي ❁ د کنزُ الـمدارس بورډ پهٔ نوم د دعوتِ اِسلامي خپل تعلمي بورډ دے ❁ تقريباً د 16500 نه زيات جامعات او مدارسُ الـمدينه د هلکانو او جينکو (Boys & Girls) د پاره قائم دي، پهٔ کومو کښې چې د حفظ او ناظرې، عالِم کورس (درسِ نظامي)، مختلف تَخَصُّصَات (Specialization)، فرض علوم کورسز کولے شي ❁ د جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز اينډ ګرلز) د طالبِ علمانو شميره څه کم يا زياته 5 لاکهه 30 زره ده ❁ د زيات عمر اِسلامي ورونړو او خوئيندو ته د قرآنِ کريم تعليم ورکولو د پاره اوسه پورې تقريباً د 74 زره 887 مدارس الـمدينه بالغان او بالغات جوړ کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د لوستونکو شميره د 4 لاکهه 26 زره نه زياته ده ❁ د فيضان آن لائن اکيډمۍ پهٔ ذريعه تقريباً 24 زره طالبِ علمان ديني تعليم حاصلوي ❁ اوسه پورې تقريباً 21 دار الافتاء اهلسنت جوړې کړے شوي دي پهٔ کومو کښې چې د شرعي رهنمايو شميره د مياشتې اوسطاً 20 زره ده ❁ د الـمدينةُ العلميه (Islamic Research Center) پهٔ ذريعه پهٔ ديني لټريچر باندې تحقيقي کار کيږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې شعبے لاندې اوسه پورې پهٔ 1784 کتابونو او رسالو باندې کار شوے دے، پهٔ دې شعبه کښې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام فريضې ترسره کوي، د الله پاک پهٔ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني علمائے کرامو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي ❁ د ديني لټريچر چاپ کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله اشاعتي اداره مکتبة الـمدينه جوړه کړې ده، چرته چې پهٔ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د تقسيمِ رسائل

(يعنې د مختلفو کتابونو او رسالو مفت تقسيم کولو) سلسله هم وي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د ديني کارونو کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر مرکزي مجلسِ شُورٰی پورې يو نظام جوړ دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذمه داران موجود دي ❀ د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او دوئي د ديني کارونو د پاره ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، دوئي ته باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي فَارِغُ البَال (يعنې د ګټې نه بے پروا) کيدو سره د دِين خدمت کوي ❀ د ميډيا مختلف پليټ فارمز، مثلاً ❀ پرنټ ميډيا (يعنې ماهنامه فيضانِ مدينه کومه چې دا وخت پۀ 7 مختلفو ژبو کښې چاپ کيدونکې کثير الاشاعت مياشتنۍ [يعنې ماهنامه] ده د دې پۀ ذريعه) ❀ سوشل ميډيا (مثلاً، يوټيوب (*YouTube*)،فيس بک(*Facebook*)،انسټاګرام(*Instagram*)وغيره باندې موجود تقريباً 100 اکاؤنټ، پۀ کومو باندې چې) تقريباً 50 ملين (*Million*) يعنې 5 کروړه فالورز (*Followers*)دي او د ويوز شميره د بلينز (*Billions*)يعنې د 100 کروړه نه هم زياتو پورې رسيدلې ده- ❀ او مَدَني چينل اُردو، انګلش، بنګله ژبو کښې، کِډز (*Kids*) مَدَني چينل، د مشرانو د پاره مَدَني چينل او د عربۍ د ويب چينل پۀ ذريعه د دِين اِسلام خدمت کولے شي ❀ د آئي ټي شعبے د طرف نه اوسه پورې 32 موبائل ايپلي کيشن او 40 اِسلامک ويب سائټس جوړ کړے شوي دي ❀ پۀ ټوله دُنيا کښې د مسلمانانو د خير خواهۍ د پاره د ايف جي آر ايف (*FGRF*) شعبه جوړه ده، د کومې د لاندې چې ❀ 34 لاکهه 16 زره 673 وَنې نالې کړے شوې دي ❀ تقريباً د 76 لاکهه 82 زره 958 کسانو امداد شوے دے ❀ 5 زره 566 کوروته جوړ کړے شوي دي ❀ 75 زره 721 د وينې ډراپونه عطيه کړے شوي دي ❀ هيلته کئير سنټر نه اوسه پورې د 61 زره 667 مريضان راغلي دي-

تاسو هم د دين د خِدمت پۀ دې کار کښې خپله حصه شامِله کړئ! خپل عطيات دعوتِ اِسلامي له ورکړئ، ستاسو چنده پۀ هر قِسمه جائز، ديني، اِصلاحي، فلاحي، روحاني او د خير ښيګړې پۀ

کارونو کښې لګيدے شی د پاره د دې چې زياتيدونکې خرچې پوره کړے شي-

دعوتِ اسلامی کی قَیُّوم، سارے جہاں میں مچ جائے دُھوم
اس پہ فِدا ہو بچہ بچہ یااللہ! مری جھولی بھر دے

صَلُّوْاعَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: يوه ورځ د الله پاک پهٔ لار کښې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پهٔ زړهٔ کښې د الله او د رسول محبت زياتولو، د ايمان او د يقين پخولو او د دِين او د دُنيا د خيرونو موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون نور هم مضبوط کړئ! پهٔ 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ، اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دين او دنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار يوه ورځ د الله پاک پهٔ لار کښې هم دے-

❁ د اوسني وخت عظيم او روحاني شخصيت امیرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه مونږ له دا مَدَني مقصد راکړے دے چې "ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي-" اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم!

❁ د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول د دې مَدَني مقصد پوره کولو د پاره کلي باندې، د ښار اطراف او د ښار داسې علاقې چرته چې ديني کار کمزورے وي هلته ځي او د نيکۍ دعوت عام کوي ❁ پهٔ هره يوه ورځ خصوصاً د جُمعې يا د اتوار پهٔ ورځ اِسلامي ورونړه دغه علاقو ته ځي ❁ هلته پهٔ جومات کښې نفل اِعتکاف کولے شي ❁ د نيکۍ دعوت عام کولے شي ❁ تاسو هم تشريف راوړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ❁ د عِلمِ دِين زده کولو موقع به درته ميلاويږي ❁ د نيکۍ د دعوت ورکولو ثواب به درنصيب کيږي ❁ د الله پاک پهٔ لاره کښې به د وتو سعادت درنصيب کيږي ❁ د حديثِ پاک خُلاصه ده: پهٔ کوم قدم

باندې چې د **الله** پاک پهٔ لار کښې دوره پریوځي، هغې ته به د دوزخ وور نه ورنزدې کیږي [1] ❁ کوم کَس چې د **الله** پاک د رضا د پاره د خپلو مسلمانانو ورونړو خوا له د ښار طرفونو ته لاړ شي، پهٔ حدیثِ پاک کښې د هغه د پاره د جنّت زیرے راغلے دے۔ [2] راځئ چې د ترغیب د پاره تاسو ته یو مَدَنی سپرلے بیان کړم۔

## مونږ خو بَس د دعوتِ اِسلامي شو

یو اِسلامي ورور وائي چې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د عامو زلمو پهٔ شان پهٔ غفلت کښې ژوند تیرولو، سندرې سازونه اوریدل زما د خوښې کارونه وو د کومو د پاره چې ما یو ریډیو هم اخستے وو، زما بخت څهٔ داسې رابیدار شو چې یوه ورځ زمونږ علاقې ته یو څو اِسلامي ورونړه یوه ورځ د **الله** پاک پهٔ لار کښې د تیرولو د پاره راغلل، پهٔ هغوئې کښې یو اِسلامي ورور ما ته پهٔ دې دیني کار کښې د شرکت کولو دعوت راکړو، ځکه زهٔ هم د یو څو دوستانو سره د هغوئې سره شامل شوم، د واپس راتللو پهٔ وخت یو اِسلامي ورور مونږ ته د هفته وارې اجتماع دعوت راکړو نو مونږ عرض وکړو: که یاد وو راته نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! ضرور به شرکت کوو۔

بهر حال مونږ پهٔ اجتماع کښې شرکت وکړو، هلته هم د هغه اِسلامي ورور سره ملاقات وشو چا چې مونږ ته د اجتماع دعوت راکړے وو، هغهٔ دومره پهٔ ښو اخلاقو میلاؤ شو چې بس مونږ خو د دعوتِ اسلامي شو۔ زما خو چې لکه د ژوند انداز بدل شو، د نمونځونو پابندي مې نصیب شوه، د سندرو ځائے نعت شریف واخستو، مخ مې پهٔ ګیره ښائسته کړو او عمامه مې پهٔ سر کړه او داسې د دعوتِ اِسلامي دیني ماحول ته راغلم۔

عطائے حبیبِ خدا دیني ماحول | ہے فَیضانِ غوث ورضا دیني ماحول

[1]… مسند امام احمد، جلد:6، صفحه:507، حدیث:16356 خلاصةً۔
[2]… معجم اوسط، جلد:1، صفحه:472، حدیث:1743۔

تُو داڑھی بڑھا لے عِمامہ سجا لے | نہیں ہے یہ ہرگز بُرا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د صِرَاطُ الـجنان ایپلي کیشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي مونږ ته د جدید تیکنالوجۍ په ذریعه هم د عِلمِ دِین ښودلو او د نیکۍ د دعوت عام کولو موقعې راکوي۔ د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے، د کوم نوم چې ***Sirat ul Jinan Quran & Tafsir*** (صِرَاطُ الـجنان قرآن اینډ تفسیر) دے۔ په دې ایپلي کیشن کښې ❁ مکمل قرآنِ کریم ❁ د اعلیٰ حضرت، اِمام اهلِسُنَّت، شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه لیکلې ترجمهٔ کنز الایمان ❁ اسانه ترجمه، ترجمهٔ کنز العرفان او ❁ په اسان انداز کښې لیکلے شوے تفسیر **صِرَاطُ الـجنان** شامل دے۔ ❁ قرآنِ کریم، ترجمه او تفسیر په آډیو (***Audio***) کښې هم اوریدے شئ۔ ❁ هره ورځ تلاوت کیدونکي سورتونه بیل جمع کړے شوي دي ❁ د مَدَني چینل تفسیرِ قرآن او مختلف قرآني پروګرامونه هم د دې ایپلي کیشن په ذریعه په اسانۍ سره کتلے شئ ❁ نور دا چې قرآني آیتونه، ترجمه او تفسیر په وټس ایپ (***Whats App***)، په فیس بُک (***Facebook***) وغیره باندې د خپلو دوستانو سره شیئر کولے هم شئ۔ دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، عِلمِ دِین زده کړئ او نورو ته د رسولو سره د نیکۍ د دعوت عام کولو ثواب هم حاصل کړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## یو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي په ورځ امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه په **مَدَني چینل** باندې **لائیو هفته**

**واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم پۀ مَدَني چینل باندې د شپې (د تراویح د نـمونځ نه پس) اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! هفته واره مَدَني مذاکره کیږي، (پۀ **رَمَـضَانُ الـمُبَارَک شریف** کښې به روزانه د مازدیګر د نـمونځ نه پس او د تراویح د نـمونځ نه پس مسلسل د مَدَني مذاکرو سلسله کیږي) پۀ کومو کښې چې به شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت مولانا الیاس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له دې هم دعوت ورکړئ

❁ شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه هره هفته د یوې **دِیني رسالې** د لوستلو اعلان کوي، پۀ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به **د فیضانِ بي بي فاطمه** رَضِیَ اللهُ عَنْهَا رسالې اعلان کولے شي- دا رساله پخپله هم ولولئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ او څوک چې سوشل میډیا مثلاً واټس ایپ وغیره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شیئر ***(Share)*** کړي!

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د بیان پۀ اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم- تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغۀ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغۀ به پۀ جنّت کښې زما سره وي- (1)

سینه تیری سُنّت کا مدینه بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

# کم خوراک کول سُنَّت دے

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**فرمان مبارک دے:** کله چې بنده په خپل خوراک کښې کمے کوي نو د هغهٔ سینه د نُور نه ډکولے شي- [1]

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم**عاشقانو!** کم خوراک کول سُنَّت دے- ❀ زمونږه خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمبه د لوږې نه کم خوراک کولو ❀ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمچې تر څو پورې په دنیا کښې تشریف فرما وو، چرې یې هم پرله پسې 2 شپې په مړه خیټه خوراک نه وو کړے ❀ رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّمبه د لوږې په وجه په خِیټه مبارکه پسې کاڼي تړل-

**د خوراک د مِقدار په باره کښې حکمونه:** ❀ چې څومره لوږه وي د هغې نه کم خوراک کول سُنَّت دي ❀ چې څومره لوږه وي، هغه همره خوړل مُبَاح دي (یعني په دې کښې نهٔ ګناه شته او نهٔ ثواب) ❀ دومره په مړه خیټه خوړل چې د خیټې خرابیدو ګمان وي، حرام دي ❀ دومره په مړه خیټه خوړل چې د خیټې خرابیدو اندیښنه نهٔ وي، مکروه دي ❀ په خوراک کښې دومره کمے راوستل چې په فرائضو ادا کولو کښې خنډ [یعني رکاوټ] شي، جائز نهٔ دي- [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتـبة الـمدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د 91 صفحو رساله 550 **سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

غم کے بادَل چھٹیں قافلے میں چلو | خوب خوشیاں ملیں قافلے میں چلو

1...جامع صغیر، صفحه:35، حدیث:469-
2...بهارِ شَرِیْعت، حصه:16، جلد:3، صفحه:374ملخصًا-

رب کے در پر جھکیں، اِلتجائیں کریں | بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئي لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے-

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
گر مدینے کا غم چاہئے چشمِ نم | لینے یہ نعمتیں قافلے میں چلو(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعنې د جُمعے د شپے] دُرُود

بُزرګانِ دينو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه

1...وسائل بخشش، صفحه:669۔

کښېږي) دا دُرُود شریف په پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر ته د خپل رَحمت نه په ډکو لاسونو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدِنِالنَّبِیِّ الْاُمِّیِّ الْحَبِیْبِ الْعَالِی الْقَدْرِ الْعَظِیْمِ الْجَاهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴾2﴿ ټول ګناهونه مُعاف

د حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے چې تاجدارِ مدینه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو د کښېناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰی اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

## ﴾3﴿ د رَحمت اویا دروازې:

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اویا دروازې بیرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو:

صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ﴾4﴿ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص۱۵۱ملخصًا
2 ... القول البدیع، الباب الثانی، ص۲۷۷

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحۡمَةُ اللّٰہِ عَلَیۡه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ

صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے ﷺ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُم حيران شول چې دا ځوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: ځوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره به زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو:

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

---

1 ... افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص ۱۴۹

2 ... القول البدیع، الباب الاول، ص ۱۲۵

3 ... الترغیب والترہیب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث: ۳۰

### ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتې د يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

### ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو:

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ

رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

1 ... مجمع الزوائد، کتاب الادعیة، باب فی کیفیة الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵

2 ... تاریخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حدیث:۴۴۱۵